د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه

# لوګر Logar

میاشتنۍ خپرونه

د تاسیس کال: ۱۳۸۳ هـ.ل

دلوګر اطلاعاتو اوفرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

چهارشنبه د۱۳۹۹ کال د سلواغې میاشتې لومړی، د ۲۰۲۱ عیسوي کال د جنوري شلمه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۱۱۹) لومړی کال، نهمه ګڼه

کله به چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم) دخپلواصحابوڅخه څوک په یوکارپسې لیږه نوهغه ته یې فرمایل: خلکوته دښوعملونوثواب زیری ورکړئ او ډیر یې مه ویروئ، چې متنفر نه شي، له هغو سره له آسانۍ کار واخلئ او سختي(سخت ګیري) مه کوئ.

(بخاري اومسلم شریف)

سرلیکنه...

## اساسي قانون دهېوادملي او رسمي سند!

اساسي قانون دیوه هېواد هغه معتبر او اساسي سند دی، چې د دولت جوړښت، څمکنۍ بشپړتیا، ملي مسائل، د وګړو حقوق او وجایب پکې ښودل شوي، چې د همدې قانون تر سیوري لاندې ټول وګړي راټولوي او خپلوچارو ته یې متوجې او په ټولو یو شان دتطبیق وړ وي.

داساسي قانون په پلي کیدونکو وګړو مکافات وضع کیږي اوپه سرغړونکو باندې مجازات د تطبیق وړ وي، ځکه دا د دولت په رکنونو کې هغه اساس اوبنسټ ایښودونکي قانون دی، چې ټولو وګړو ته یې په ماده ئیز ډول هر څه بیان کړي دي او دیاد قانون څخه نور قوانین پنځولي، چې دغه قانون د نوروقوانینو مور هم بلل کیږي.

د افغانستان اساسي قانون یو له هغو روښانه او معتبرو قوانینو څخه شمیرل کیږي، چې د اسلامي اصولو پر بنسټ جوړ شوی دی.

دافغانستان اساسي قانون د هېواد له مختلفو قومونو په استازیتوب جوړ او تصویب شو، چې پکې، علماء، مجاهدین، قومي مشران، جهادي رهبران او نور ولسونو پکې رغنده برخه اخیستې وه.

دهېواد اساسي قانون چې ملي وثیقه او دټولو هېوادوالو جامع، څرګند او ملي سند ګڼل کیږي، نو ولس، نظام او هېوادوال اړ دي، چې د دغه قانون ترسیوري خپلې چارې سمبالې او د قانون پر خلاف نه باید غلطې کړنې ترسره کړي، ځکه د قانون پر وړاندې درېدونکي کسان مجرم ګڼل کیږي او د مجازاتو وړ دي.

داساسي قانون د درناوي په موخه یوه اونۍ د ( مرغومي له ۱۴ تر ۲۱مې نیټې داساسي قانون دتصویب د اونۍ) په نوم نومول شوې، چې ولس او نظام د اساسي قانون له ارزښتونواو مزایاوو برخمن شي، چې څنګه د دغه قانون په پلي کیدو او په ځان د منلو احساس دهېواد ملي ګټو پر وړاندې ترسره کړي.

همداراز د دغه ملي سند د پوهاوی لپاره غونډې جوړیږي، څو خلک پوه شي، چې ددغه ملي او هېوادني سند په ارزښتونو خبراوی ترلاسه او ولس ته داساسي قانون په تړاو مالومات ورسوي.

اساسي قانون چې په کال ۱۳۸۲ هجري لمریز د مرغومي په ۱۴ مه دپلازمینې کابل ښار د لویې جرګې په خیمې کې تصویب او دهمدې کال د سلواغې په ۶ مه د وخت جمهور رییس جلالتمآب حامد کرزي لخوا توشیح او نافذ شو.

دغه اتم پړاو اساسي قانون ده، چې دهېواد په کچه دافغانسنان اوسني نظام کې تصویب او نافذیږي او مخکیني اساسي قانونونه، چې په تېرو نظامونو کې د پلې کېدو وړ ول، ملغاء اعلان شوي دي.

اوسنی اساسي قانون مسوده له ۱۲ څپرکو او ۱۶۲ مادو څخه جوړشوی، چې لومړی څپرکی د دولت، دویم څپرکی دهیواد داتباعو داساسي حقوقو او دندو، دریم څپرکی دجمهور رییس، څلورم څپرکی دحکومت، پنځم څپرکی دملي شورا، شپږم څپرکی د لویي جرګې، اووم څپرکی دقضاء، اتم څپرکی د ادارې، نهم څپرکی داضطرار دحالاتو، لسم څپرکی دتعدیل، یوولسم څپرکی د متفرقه حکمونو او دولسم څپرکی یې د انتقالي حکمونو په باره کې په ماده ئیز ډول بحث کوي.

د اساسي قانون له تصویب او نافذیدو نه ولس، نظام او عام وګړي تر ډیره بریده خوښ شول، چې افغانستان د یونوي څپرکي باب پرانیسته او د یو رښتیني او معتبر قانون درلودونکي شو.

خو بیا هم د دولت په چوکاټ کې ډیری داسې زورواکې شته دي، چې د اساسي قانون خلاف کړنې ترسره کوي، چې د داسې اشخاصو مخنیوی دې د نظام مسوولین وکړې، ګنې ددې قانون په وړاندې به دوه ګونې چلند کیږي، چې قانون به په نورو تطبیقیږي او زورواکې به قانون تر پښو لاندې کوي.

راځئ هېوادوالو! دخپل هېوادني اساسي قانون ترسیورې هېوادوالو ته خدمت وکړو، دهېواد ملي ګټو ته ژمن واوسو او په هېواد کې د تلپاتې سولې په راوستو کې یو بل ته ځانګړې درناوی ولرو، څو د هېواد د دښمنانو زړونه زموږ دملي یوالي په لیدو وچویږي او نور ونشي کړای چې زموږ په کورنیو چارو کې پټې او یا په ښکاره توګه مداخلې ترسره کړي.

تریبا دخدای پامان

مدیر

## از هفته تصویب قانون اساسی در لوگر تجلیل به عمل آمد





ازهفته تصویب قانون اساسی درلوگر تجلیل بعمل آمد، گردهمایی که بدین مناسبت درمقام ولایت لوگر تدویریافته بود، درآن محمداجمل شاه پوروالی لوگر،حسیب الله ستانکزی رییس شورای ولایتی،عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ و برخی روسای ادارات دولتی اشتراک ورزیده بودند.محمداجمل شاپور والی لوگر در رابطه به ضرورت قانون اساسی و نقش آن در تحکیم نظم ورفاه عامه، صحبت نمود وهمچنان درمورد مزایای قانون اساسی کشور معلومات ارایه کرد وگفت: تازمان که به قانون پابند نباشیم به صلح وعدالت اجتماعی دست نخواهیم یافت، والی افزود که درقانون حقوق همه اتباع مشخص است و تطبیق قانون ورعایت آن وجایب دولت ومردم میباشد. همچنان ناصریکتن ازباشنده گان لوگر می گوید که قوانین باید بصورت یکسان بالای زورمندان وهمه تطبیق گردد وی علاوه کرد که تطبیق قانون از مکلفیت عمومی و اساسی حکومت می باشد وباید حکومت برای تامین عدالت وازبین بردن ریشه های خیانت و قانون شکنی تلاش کنند.

عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ می گوید که قانون اساسی برای اتباع افغانستان بوده که در آن تمام حقوق مردم افغانستان محفوظ می باشد،وی علاوه کرد که قانون اساسی کلی ترین قانون است، آقای تسل گفت که به پیشواز از هفدهمین سالگرد تصویب قانون اساسی یک چهارراهی درشهرپل علم بنام چهارراهی قانون اساسی مسمی گردید. قانون اساسی کشور دارای یکصدوشصت دو ماده در دوازده فصل میباشدکه در سال 1382 هجری شمسی توسط حامد کرزی ریس جمهورپیشین کشور توشیح ونافذ شد.

## تحت عنوان(صلح و وحدت) مراسم شعرخوانی درلوگر برگزارگردید






تحت عنوان(صلح ووحدت) مراسم شعرخوانی به تاریخ 10 جدی درمرکز ولایت لوگر ازسوی ریاست اطلاعات وفرهنگ و نهاد جوانان متعهد لوگر برگزارگردید که دراین برنامه شعرخوانی شاعران،فرهنگیان وادیبان خواهان پایان جنگ، آتش بس وتامین صلح درکشورشدند.

پروگرام که بدین مناسبت در ریاست اطلاعات وفرهنگ لوگر دایرگردیده بود ،محمداجمل شاه پور والی لوگر، عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ، شاعران،نویسنده گان، ادیبان،فرهنگیان وده ها تن ازجوانان اشتراک ورزیده بودند.

دراین مشاعره شاعران با اشعار میهنی، طنزی وحماسی شان در رابطه به صلح، پایان جنگ وکشمکش ها ،آتش بس و حفظ ارزش های ملی اشعارشانرا دکلمه نمودند.

محمداجمل شاه پور والی لوگر که درآغازمشاعره صحبت نمود وگفت که کشوردرحالت حساس قرار دارد وباید جوانان باالخصوص شاعران ونویسنده گان نیز درتامین صلح کوشا باشند ، وی علاوه کرد که شاعران ونویسنده گان درتغیراذهان عامه نقش کلیدی ایفاء می نمایند ، والی لوگر شاعران وادیبان را سفیرصلح عنوان کرد وازآنان خواست که برای تامین صلح به زبان شعر تلاش کنند.

عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ لوگر می گوید که این مشاعره بمنظور تامین صلح و وحدت ملی، برگزارشده است تا شاعران، فرهنگیان وادیبان درقالب شعرومنظومه های شان صدای صلح را به طرف های درگیری جنگ برسانند ، وی گفت که اهل قلم وشاعران نقش ارزنده درتغیر اذهان عامه دارد واین ریاست درصدد آن است تا برنامه های بیشتری را برای تامین وحدت ملی ورفاه کشور راه اندازی نمایند.

محمدانورزاهد وفرهاد آصفی دو تن ازشاعران، صلح را خواست همه مردم عنوان کرد و زندگی درفضای امن را برای پیشرفت وآبادانی کشورمهم تلقی نمود ودرکلمات زیبایی شعری شان خواهان متوقف شدن جنگ، آتش بس وتامین صلح شدند.

همچنان محمد عمروزیری یکتن ازاعضای نهادجوانان متعهد لوگر نیز هدف ازراه اندازی برنامه را متوقف شدن جنگ تامین آتش بس وصلح درکشورعنوان کرد.

دراین برنامه ده هاتن جوانان به آرزویی رقم زدن سرنوشت آینده شان درفضای امن وصلح، گرد هم آمده بودند تا دیگربدبختی ها درکشور خاتمه یابد.

قابل یاد آوری است که چندی پیش نیز مشاعره مردمی بمنظور تامین صلح در ریاست اطلاعات وفرهنگ برگزار شده بود.




## د لوګر د پل علم ښارد ښاروالۍ هوټل ودانۍ پرانیستل شوه

دمرغومي ۲ مه: د لوګر والي محمد اجمل شاه پور د لوګر د پل علم ښار د ښاروالۍ هوټل ودانۍ پرانیستله.

د پل علم د ښاروالۍ سرپرست عبدالقادر ستانکزي وویل ،چې د دغه هوټل ودانۍ له پرمختیایي بودجې څخه د۱۷ میلیونو افغانیو په لګښت په یو کال کې په اساسي او پاخه ډول په دوو پوړونو کې جوړ شوی دی.

هغه زیاته کړه، چې د دغه هوټل ودانۍ دوه تالارونه لري او په نورو ضروري ملحقاتو سمبال شوی دی.

د لوګر والي محمد اجمل شاه پور وویل: دا لومړی ځل دی چې په لوګر کې د ودونو او ټولنیزو سترو پروګرامونو په خاطر یو هوټل جوړیږي.

شاه پور له وسله والو مخالفینو وغوښتل؛ چې جګړه بس کړي او د سولې له بهیر سره یو ځای شي.

د لوګروالي د دغه ولایت له اوسیدونکو وغوښتل، پاتې په دویم مخ کې



**په افغانستان کې هیڅ قانون نشي کولای، چې د اسلام دسپیڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي.**

(دافغانستان داساسي قانون دریمه ماده)